# پرمختیا
اوونیزه

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

۹٤ مه ګڼه • پنجشنبه • د زمري ۳۱مه • ۱۳۹۸





۱٤

## په میدان وردګ کې د ۷۷۲ میلیونو افغانیو په ارزښت د ۱٤۱ ښوونځیو د جوړولو کار پیل شو



۲

په هرات ولایت کې د څه باندې ۱٦۳ میلیونو افغانیو په لګښت څه کم ۱۸ کیلو متره سړک پوخ او ګټې اخستنې ته وسپارل شو



٤

د چین هیواد د ۸۸.۵ ملیونه افغانیو په مالي مرسته د ۱۷٤ سرپناه استوګنځایونو پروژه په بریالیتوب سره سر ته ورسیدله

# په هرات ولایت کې د څه باندې ۱٦۳ میلیونو افغانیو په لګښت څه کم ۱۸ کیلو متره سړک پوخ او ګټې اخستنې ته وسپارل شو

۱۷/ زمري/ ۱۳۹۸

په هرات ولایت دګذرې ولسوالۍ له مرکزه ددغې ولسوالۍ په سویل کې تر عمومي سړکه ۱۷.۰۸ کیلو متره سړک پوخ (قیر) شو او د اوبو ایستلو جوړښتونه یې ورغیدل، سړک ګټې اخستنې ته وسپارل شو او د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د پروګرامونو معین محمد عیسي قدرت او د هرات والي عبدالقیوم رحیمي یې پرانسته وکړه. په دغه پروژه د نړیوال بانک له وړیا مرستې څه باندې ۱٦۳ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی.
ددغه سړک په پخیدو سره ۲۹ کلي یو له بل سره وتړل شول او نږدې ۲۹ نیم زره خلکو د لومړنیو خدمتونو مرکزونو ته لاره پیدا کړه د سړک جوړولو کار ۱۲،۸۲۰ کاري ورځې رامنځ ته کړې وې. له دې پروژې څخه به ۷٤۷۰ کورنۍ نیغ په نیغه او ۱۱٤۰۰ کورنۍ په نا مستقیم ډول ګټه پورته کوي.



# په لغمان کې د ٤۰۰ متره گبیون ډوله دیوال د جوړېدو کار پیل شو

۱۸/ زمري/ ۱۳۹۸

د خوراک د نړیوال سازمان له خوا د لغمان د کلیو بیا رغونې او پرمختیا ریاست په تخنیکي مرسته ددولت شاه ولسوالۍ د گورکاوتو او شیربکاني کلیو تر منځ د ٤۰۰ متره گبیون ډوله دیوال د جوړېدو کار پیل شو.

ددې پروژې د کار په ترځ کې د ٦ میاشتو لپاره ۳۰۰ کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده، ددې کار په بشپړېدو سره به گڼ شمیر کورونه، باغونه او کرنیزه ځمکه د نیزونو او سیلابونو له گوابښه خوندي شي.





# د ٤٥ میلیونه افغانیو په ارزښت د ورسج- خواڅ دسرک ددوو برخو د جوړېدو تړون وشو

۲۵/ زمري/ ۱۳۹۸

د تخار ولایت د کلیو بیا رغونې او پرمختیا ریاست او د حلیم زي ودانیز شرکت له خوا د ٤٥ میلیونو افغانیو په ارزښت د تخار ولایت له ورسج ولسوالۍ څخه د پنجشیر ولایت تر خواڅ ولسوالۍ پورې د سرک د دوو برخو د جوړېدا تړون لاسلیک شو.

د تخار د کلیو بیا رغونې او پرمختیا د رییس په وینا ددې سرک یوازې دوه برخې ۱٤.۱٥ کیلومتره اوږدوالی لري چې جوړول به یې ۹۰ کاري ورځې رامنځ کړي.

نوموړې وویل ددې سرک پاتې برخې چې د تخار ورسج ولسوالي به د پنجشیر له خواڅ سره تړي تړون به یې په نږدې راتلونکي کې لاسلیک شي.



# د چین هیواد د ۸۸.۵ ملیونه افغانیو په مالي مرسته د ۱۷٤ سرپناه استوګنځایونو پروژه په بریالیتوب سره سر ته ورسیدله

۲۴/ زمري/ ۱۳۹۸

نن له غرمي مخکې د کلیو د بیارغوني او پراختیا وزارت د برنامو معین ښاغلي محمد عیسي قدرت او ورسره همکارانو په اقتصادي چارو کې د چین له قونسل ښاغلي وانګ هانګکوان او یو شمیرهمکارانو سره د دوه اړخیزي همکاریو، غیر غذایي موادو چمتو کولو، استوګنځایونو جوړولو او د وزارت له اړتیاوو سره سم د روزنیزو پروګرامونو د عیارولو په هکله مفصلې خبري وکړي. په پیل کې ښاغلي محمد عیسي قدرت د چین هیواد له ترسره شویو مرستو څخه مننه وکړه او د دوه اړخیزو اړیکوپر لا پیاوړي کولو یې ټینګار وکړ. نوموړي د چین هیواد صادقانه

مرستې وسـتایلې او پـه دې برخـه کـې یـې د ترسـره شـویو کارونـو د ګـډې تجربـې پـه رڼـا کـې د نویـو مرسـتو د ترلاسـه کولـو لپـاره د وزارت پـوره چمتـو والـي څرګنـد کـړ. د چیـن هیـواد قونسـل پـه بریالـی توګـه او ښـه کیفیـت سـره د بدخشـان ولایـت پـه ارګـو ولسـوالی کـې د ۱۷۴ سـرپناه کورونـو د پـروژې پـه هکلـه خوښـي څرګنـده کـړه او زیاتـه یـې کـړه چـې دا یـې پـه ودانیـزو چـارو کـې لمړنـی ازمایښـتي پـروژه وه چـې د چینایـي کمپنـی لـه تخنیکـي مرسـتې پرتـه د کلیـو بیارغونـي او پراختیـا وزارت پـه خپلواکـه توګـه پلـې کـړه. هغـه زیاتـه کـړه چـې د کلیـو د بیارغونـي او پراختیـا وزارت بـه د ښـه ظرفیـت لـه کبلـه د ورتـه پـروژو پـه تطبیـق او کلیوالـي سیمو کـې د خدمـت کولـو پـه لـړ کـې د چیـن هیـواد نـوې مرسـتې را جلـب کـړي. پـه پـای کـې دواړو لوریـو پـه بدخشـان ولایـت کـې پـه بریالـی توګـه د دوه اړخیـز هوکـړه لیـک د مـوادو د بشـپړیدلو سـند هـم لاسـلیک کـړ چـې پـه نتیجـه کـې یـې د ۸۸.۵ ملیونـه افغانیـو پـه ارزښـت پـه بدخشـان ولایـت کـې ۱۷۴ سـرپناه اسـتوګنځایونه جـوړ شـول.





# په تخار کې د ۱.۷ میلیونو افغانیو په ارزښت د یوه کانال د ایستلو کار پیل شو

۲۷/ زمري/ ۱۹۹۸

د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له لوري د تخار ولایت د دشت قلعه ولسوالۍ د شهر کهنه کلي د پرمختیایي شورا له لارې د ۱.۷ میلیونو افغانیو په ارزښت د اوبه خور د یوه کانال د ایستلو چارې پیل شوي او کار یې ۸۰ سلنه مخکې تللی. دا کانال ٥٦٠ متره اوږدوالی لري او د کار په اوږدو کې یې فني او نافني کارګرو ته ۱۲۱ کاري ورځې رامنځ ته شوې دي.

باید ووایو چې د کار په بشپړېدو سره به ۳۹۸ کورنۍ له دې کاناله ګټه واخلي.

# په ننګرهار کې د ٤.٥ میلیونو افغانیو په ارزښت د یوه ښوونځي د بنسټ ډبره کیښودل شوه

۲۷ / زمري/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون د اقرا پروګرام له لوري د ننګرهار ولایت د شینوارو ولسوالۍ په شیرګړ کې د ٤.٥ میلیونو افغانیو په ارزښت د یوه لومړني ښوونځي د بنسټ ډبره کیښودل شوه.

دا ښوونځی به ۸ ټولګې یوه اداره د څښاک اوبو څاه، تشنابونه او نور اړوند ملحقات ولري، ددغه ښوونځي د بشپړېدو چارې به ۳ میاشتې وخت ونیسي.



# په بغلان کې د ۳.٤ میلیونو افغانیو په ارزښت دوه پرمختیایي پروژې بشپړې شوې

۲۹/ زمري/ ۱۳۹۸

د افغانستان د خپلواکۍ د سلمې کلیزې په ویاړ د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له خوا د ۳.٤ میلیونو افغانیو په ارزښت د بغلان ولایت په مرکزي بغلان ولسوالۍ کې دوه پرمختیایي پروژې بشپړې او ګټې اخستنې ته وسپارل شوې.

له دې پروژو یوه یې د اوبه خور د ۲۵۰ متره کانال ایستل، او بله یې د ښاک د اوبو ۳ زیرمې دي چې پمپونه یې په لمریزه بریښنا کار کوي، د مرکزي بغلان په قرمقول او سرک پنجم کلیو کې بشپړې شوې، ددې پروژو په پلي کولو سره ۱٦۷۹ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې او په بشپړېدو سره یې ۵۷۸ کورنۍ د پروژو له ګټو برخمنې شوې.





# په ننگرهار کې د ۱.۱ میلیون افغانیو په ارزښت ۱۷۵ متره استنادي دیوال جوړ شو

۲۷/ زمري/ ۱۳۹۸

د ننگرهار ولایت په کوز کونړ ولسوالۍ کې د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروگرام له خوا د ۱.۱ میلیونو افغانیو په ارزښت ۱۷۵ متره استنادي دیوال جوړ او گټې اخستنې ته وسپارل شو، ددې دیوال کار په یوه میاشت کې تر سره شو او په جوړولو سره یې سلگونه جریبه کرنیزه ځمکه، باغونه، ویالې او لارې د نیزونو له گواښه وژغورل شوې.

# په ننگرهار کې د څه باندې ۷.۸ میلیونه افغانیو په لگښت د یوه ښوونځي د بنسټ ډبره کیښودل شوه

۲٦/ زمري/ ۱۳۹۸

د هیواد د خپلواکۍ د بیرته اخیستلو د سلمې کلیزې په ویاړ، د څه باندې ۷ میلیونه او ۸۰۰ زره افغانیو په لگښت د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروگرام له لوري د اقراء پروژې تر سیوري لاندې د یوه لومړني ښوونځي د ودانۍ د بنسټ ډبره د ننگرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ اړوند په زړه گلدره کلي کې کیښودل شوه. یاد ښوونځي ۱۰ درسي ټولگي، ٥ تشنابونه او د څښاک د پاکو اوبو یوه څاه لري او د درېو میاشتو په بهیر کې به جوړ شي په دې سره به د ۵۸۷ زده کوونکو لپاره د ښوونې او روزنې مناسب چاپیریال رامنځ ته شي.





# تکمیل کار جغل‌اندازی دو کیلومتر سرک به ارزش چهار میلیون افغانی در ننگرهار

۲۷ اسد ۱۳۹۸

کار جغل‌اندازی دو کیلو متر سرک به ارزش ٤ میلیون افغانی از سوی برنامه ملی میثاق شهروندی وزارت احیا و انکشاف دهات در ولسوالی کامه‌ی ولایت ننگرهار تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.

کار این سرک طی دو ماه تکمیل شده و در طول آن پلچک‌ها، دیوارهای استنادی و برخی ساختمان‌های ضروری دیگر نیز ساخته شده است.

# په ننگرهار ولایت کې د ۲.۲ میلیونو افغانیو په ارزښت د یوه کانال ایستلو کار بشپړ شو

۲۷/ زمري/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروگرام له خوا د ننگرهار په دره نور ولسوالۍ کې د ۲.۲ میلیونو افغانیو په ارزښت د یوه کانال د ایستلو چارې بشپړې شوې او گټې اخستنې ته وسپارل شو.

ددې کانال په ایستلو سره ۱۷۰ کورنیو د څښاک پاکو اوبو ته لاس رسي پیدا کړ.





# په تخار کې په ټولیزه توګه د ۲۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳ پرمختیایي پروژو بشپړېدل او دیوې بلې پیل

۲۹/ زمري/ ۱۳۹۸

د افغانستان د خپلواکۍ د سلمې کلیزې په ویاړ د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون له لوري د تخار ولایت په بهارک او ورسج ولسوالیو کې په ټولیزه توګه د ۲۵ میلیونه افغانیو په ارزښت ۳ پرمختیایي پروژې بشپړې اوګټې اخستنې ته وسپارل شوې او یوه بله پروژه پیل شوه. د دې پروژو له ټولګې یوه یې د ۱۲.٦۵ کیلو مترو په اوږدوالي د برېښنا ښاري شبکه رغول وو. بله یې د بهارک ولسوالۍ په برګت، چایله علي خان او قاضي غفور کلیو کې د ځښاک د اوبو څاګانې ایستل وو او بله یې د ورسج ولسوالۍ په ده بالا او حصار کلیو کې ۵۰۰ متره محافظوي دیوال جوړول وو.

له دې ټولګې درې پروژې بشپړې اوګټې اخستنې ته سپارل شوي او دیوې بلې کار نوي، نوي پیل شوي دي.

# د لغمان په قلعه ملک کلي کې د ۱.۷ میلیونو افغانیو په ارزښت یو کانال وایستل شو

۲۹/ زمري/ ۱۳۹۸

د افغانستان د خپلواکۍ د سلمې کلیزې په ویاړ د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له خوا د ۱.۷ میلیونو افغانیو په ارزښت د لغمان ولایت په مرکز قلعه ملک کلي کې ٦۹ متره کانال و ایستل شو او ګټې اخستنې ته وسپارل شو.





# په لغمان ولایت کې د ۳.۲ میلیونو افغانیو په ارزښت دوه پرمختیایي پروژې ګټې اخستنې ته وسپارل شوې

۲۹/ زمري/ ۱۳۹۸

د افغانستان د خپلواکۍ د سلمې کلیزې په ویاړ د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له لوري د لغمان په قرغیي ولسوالۍ کې د ۳.۲ میلیونو افغانیو په ارزښت دوه پرمختیایي پروژې بشپړې او ګټې اخستنې ته وسپارل شوې.

یوه پروژه په فیروزاباد کلي کې د ۳۷۰ متره کانال ایستل او بله یې د ۵۵۰ متره کوڅې کانکریټول وو.



# په کندز کې د ۳ میلیونو افغانیو په ارزښت دوه پرمختیایي پروژې بشپړې شوې

۲۹/ زمري/ ۱۳۹۸

د افغانستان د خپلواکۍ د سلمې کلیزې د لمانځنې په ویاړ د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له خوا د کندز د علي اباد ولسوالۍ په حاجي حفیظ کلي او د ولایت د مرکز په ترکمنانو کلي کې، د نږدې ۳ میلیونو افغانیو په ارزښت دوه پروژې بشپړې او ګټې اخستنې ته وسپارل شوې.

له دغو دوو پروژو یوه یې د ۲.۲ کیلو متره سړک کانکریټول او بله یې د ۱۳ څاګانو ایستل او د اوبو رسولو یوه شبکه رامنځ ته کول وو.

۵۳۹ کورنۍ د پروژو په بشپړتیا سره له ګټې برخمنې شوې.



# په کاپیسا کې د ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د یو کرنیز کانال کار بشپړ شو

۳۰/ زمري/ ۱۳۹۸

د افغانستان د خپلواکۍ د سلمې کلیزې په ویاړ د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له خوا د کاپیسا د نجراب ولسوالۍ د مرکز پاریات کلي کې د ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د یو کرنیز کانال د ایستلو چارې بشپړې او ګټې اخستنې ته وسپارل شو. دغه کانال ۳۲۵ متره اوږدوالي لري چې د ایستلو په ترڅ کې یې ۱۳۸۸ فني او نافني کارګرو ته د کار زمینه برابره شوې وه. د یاد کانال په ایستلو سره ۱۶۰ جریبه ځمکه خړوبه شوه د یادولو وړ ده چې ۱۱۷ کورنۍ به ددې پروژې له ګټو برخمنې شي.



# په لغمان کې د ۱۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۵۸۰ متره استنادي دیوال تړون لاسلیک شو

۲۹/ زمري/ ۱۳۹۸

د افغانستان د خپلواکۍ د سلمې کلیزې په ویاړ د لغمان د کلیو بیارغونې او پرمختیا د رییس او د داندړ د پرمختیایي شورا له لوري د ۱۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۵۸۰ متره استنادي دیوال جوړولو تړون لاسلیک شو چې د قرغیي ولسوالۍ په لعل خان اباد او داندړ کلیو کې به جوړېږي.

ددې دیوال په جوړېدو سره به سلګونه جریبه کرنیزه ځمکه او د استوګنې کورونه د نیزونو له ګوابنه وژغورل شي.




# په میدان وردگ کې د ۷۷۲ میلیونو افغانیو په ارزښت د ١٤١ ښوونځیو د جوړولو کار پیل شو

۲۹/ زمري/ ۱۳۹۸

په میدان وردگ ولایت کې د افغانستان د خپلواکۍ د سلمې کلیزې په ویاړ د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون د اقرا پروگرام له لوري د ۷۷۲ میلیونو افغانیو په ارزښت د ١٤١ ښوونځیو د جوړولو چارې پیل شوې.

ددې ښوونځیو له ډولګې یو یې په میدان ښار، ۱۱ یې په جلریز، ۱۹ یې په نرخ ، ۲۲ یې د بهسودو په اوله حصه، ٤ یې د بهسودو په مرکز ۲۵ یې په چک ، ۳۳ یې په سیداباد، ۱۹ یې په جغتو، او ۷ یې په دایمیرداد ولسوالۍ کې جوړیږي.

په ټوله کې باید په میدان وردگ کې ۲۱۷ ښوونځي جوړ شي د ١٤١ ښوونځیو چې د سروې او ډیزاین چارې یې تر سره شوې وې د جوړولو کارونه په رسمي ډول پیل شول.